بسم الله الرحمن الرحیم

اعلامیه -د ښځو دیووالی یوسلو ځلورمی نړیوالی ورځی په اړوند !

د ۲۰۱۵ کال د مارچ میاشتی ۸ - کابل، افغانستان

د مارچ اتمه، د نړی د ښځو د یووالی ورځ ، د نړی د ټولوښځو لپاره ارزښمنده ورځ شمیرل کیږی. له دی ورځی څخه یادونه په ټولنه کی د ښځو د ګډون او په ټولنیز، سیاسی، فرهنګی او اقتصادی ژوندانه کی د هغوی د یوشان وندې په هکله د دولتونو او نړیوالو بنسټونو پاملرنه ګټل کیږی.

د نړی په ګوټ ګوټ کی د ښځو د سیاسی، اقتصادی کار او ټولنیزو فعالیتونو په برخه کی د مثبتو بدلونونو د رامینځته کیدو سره سره، د ښځو پر وړاندی تاوتریخوالی او د هغه بی سابقه ډیروالی په نړی کی په یو ویرونکی پدیده بدله شوی ده، پر کم عمر درلودونکو نجونو د سوداګری ، د ځوانو ښځو د جبری ځان خرڅونی نه تر تیری او وهلو او ډبولو اوپه کورونو کی د ښځو توهین او تحقیر ، د ښځو پروړاندی د دولتی، ټولنیزو او کورنیو ظلمونو یو متصل زنځیر جوړوی.

د ښځو او نارینه ترمینځ د توپیر شتون د متحجرو فکرونو پر بنسټ ، قبیلوی رواجونو ، د پوړیزو او جنسی ظلمونو حاکمیت، د تاوتریخوالی د کچی لوړوالی، ناموسی وژنی، د وخت څخه مخکی جبری او ګنیزو ودونو، د بیسوادی د کچی لوړوالی، د حامله ښځو او ماشومانو مړینه، د روغتیایی او نورو ټولنیزو آسانتیاو کموالی، د ژوندانه د لږ تر لږه ضروریاتو پوره کیدو په خاطر د درنو او ګرانو کارونو کول، پر دندی باندی د ټاکلو په برخه کی د ژوری فاصلی شتون، د کاری چاپیریال ستونزی ، په ټاکنیزو پړاونو او رای ورکونی حق او لوړو مقاماتو ته د نوماندیدلو په برخه کی د قیوداتو او محدودیتونو د شتون ، د دین او مذهب د آدرسه څخه د لاس اوپښو ټرونکو قوانینو، مقررو لوایحو او فتواوو د ورکول د ښځو د آزادی، زده کړی، کار، تحصیل، دښځو د دموکراتیکو حقوقو او آزادیو او داسی نوری ستونزی باید په نړیواله او بنسټیزه توګه د ښځو له لاری لری شی.

تیره نیمه پیړی د افغانستان د ښځو لپاره ډیر ستونزمن کلونه وه په دی کلونو کی د هیواد ښځو د ټولنیز، سیاسی ، اقتصادی، او فرهنګی امنیت د لږوالی د کبله ډیر زحمتونه ګاللی دی . تحقیر، د ښځو و انسانی کرامت ته سپکاوی، پر ښځو او ماشومانو جنسی تیری، د ښځو سیاسی ګډون ته په لږ نظر کتنه، په فرهنګی او اقتصادی برخه کی د جنسیتی موازنی نه شتون او د ښځو په ګډون کی د مقدسو ارزښتونو څخه غلطی اخیستنی، د هیواد د مهمو ټولنیزو ستونزو څخه شمیرل کیږی.

د افغانستان د بیستیزو حقونو ځار موسسه، ددی ورځی مبارکی و ټولو ښځو، په خاص ډول د افغانستان ښخو ته مبارکی وایی او د وخت څخه په ګټی اخیستو لاندی ټکی وړاندی کوي:

۱. د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی د مخنیوی قانون باید ژر تر ژره خپل قانونی پړاونو تیر او پلی کیدونکی پړاو ته ورسیږی او په هیواد کی ټول اړوند بنسټونه باید ددی ارزښت لرونکی قانون د پلی کیدو په برخه کی خپلی کلکی هڅی وکړی.

۲. د ملی وحدت دولت باید په ملی او نړیوالو سیاسی مسایلو کی د ارزښت لرونکی ګډون څخه ګټه واخلی او په کادری سیاست او د حکومت په کابینه کی د متخصصو او غوره افغان ښځو څخه ګټه واخلی.

۳. د ملی وحدت دولت باید خپل د پانګی اچونی او پروګرام جوړونی لومړیتوبونه، نجونو ته ورکړی ځکه چی د یوی نجلی د با سوادیدو سره د هغه اغیزی په ۵ نسلونو کی ادامه پیدا کوی، مونږ د خپل هیواد نجونو ته د نن ورځی پاملرنی سره کولای شو د خپل هیواد راتلونکی ته ښه انځور ورکړو.

۴. پولیس او د قانون پلی کونکی بنسټونه باید د هیواد د ښځو د فزیکی اوټولنیز امنیت خپلو د برنامو په مهمو لومړیتوبونو باندی واړوی او هغه سرغړونکی او جنایتکاران چی پر ښځو او ماشومانو باندی تیری کوی د قانون منګولو ته وسپاری او د هیواد د ښځو او ماشومانو د عزت او کرامت څخه ساتنه وکړی.

ځلانده دی وي د مارچ د اتمی جشن ، د نړی په ګوټ ګوټ کی د ښځو د آزادی او یووالی نړیواله ورځ!

Email: info@wbrao.org & campaing@wbrao.org
Web: www.wbrao.org